# د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو
# ډیپارټمنټ کتلاک



۱۳۹۹ لمریز کال



## د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ پېژندنه

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ په ۱۳۹۱لمریز کال کي د پوهنځي له ایجاد سره سم د لوړو زده کړو وزارت د (۸۹) (۱۳۹۱/۱/۲۸) حکم په اساس د کندهار ولایت یوولسمه ناحیه د عینو مېني په ښارګوټي کي خپل فعالیت پیل کړ.

په کال ۱۳۹۹ لمریز کي د لوړو زده کړو وزرات د نوی نصاب له مخي د دې ډیپارټمنټ نوم له اداره او ډیپلوماسي څخه په سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو بدل سو.

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ د ورځي په دوو وختونو (سهار او مازدیګر ) کي تدریس لري، چي تر اوسه یې یوولس دورې فارغان ورکړي دي؛ د فارغانو له ډلي «۲۴۲» تنه نارینه او «۸» تني ښځینه دي؛ د برحاله محصلینو شمېر یې تر ۲۵۰ کسانو اوړي.

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ پلان لري تر څو د محصلینو او استادانو لپاره د مالي منابعو په مرسته د څېړنو ، له دولتي او خصوصي سکتورونو سره د ګډو همکاریو د فعالیتونو په زیاتوالي د عملي کارونو برخي ته پراختیا ورکړي.

**د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ ټوله دوره څلور کاله (اته سمسترونه/۱٦ اونۍ) ده، ورځنۍ تدریس یې درې ساعته دی او هر ساعت ۵۰ دقیقې دی، چي مضامین او کریډیټونه یې په دې ترتیب دي:**

| اساسي مضامین | | | تخصصي مضامین | | | اختیاري او پوهنتون شموله مضامین | | | عملي کار او مونوګراف | | | مجموعه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مضامینو شمېر | کریډیټونه | فیصدي | مضامینو شمېر | کریډیټونه | فیصدي | مضامینو شمېر | کریډیټونه | فیصدي | مضامینو شمېر | کریډیټونه | فیصدي | مضامینو شمېر | کریډیټونه | فیصدي |
| ۲۰ | ۴۱ | ٪ ۲۸ | ۳۹ | ۷٦ | ٪ ۵۱ | ۲۱ | ۲۰ | ٪ ۱۴ | ۳ | ۱۰ | ٪ ۷ | ۸۲ | ۱۴۸ | ٪ ۱۰۰ |



# د سياسي علومو او نړيوالو اړيکو ډيپارټمنټ مرامنامه

## لیرلید (Vision)

د سياسي علومو او نړيوالو اړيکو څانګه به په ملي کچه د معياري تدريس کره څېړنو، مسلکي ډيپلوماټانو، سياستپوهانو او رهبرانو وړاندي کوونکي وي.

## رسالت (Mission)

د سياسي علومو او نړيوالو اړيکو څانګه د نوي ټکنالوژۍ، اغيزمنو ښوونيزو ميتودونو او مسلکي بشري قوې په مرسته د معياري تدريس، کره څېړنو، علمي چاپېريال رامنځته کولو او د محصلينو د ظرفيت لوړولو لپاره هڅه کوي.

## زده کړه ییز اهداف

د سياسي علومو او نړيوالو اړيکو څانګي فارعان به لاندي وړتياوي ترلاسه کړي:

- ☑ د سيمي، هيواد او نړي په سطحه د مسايلو تجزيه او تحليل وړتيا
- ☑ سياست پوهنه کي، د مذاکراتو مديريت، د سولي او بحرانونو مديريت او شخړو حل فصل کي علمي وړتيا درلودل
- ☑ په بيلابيلو ارګانونو ، ټولنو، دولتي او غير دولتي مؤسساتو کي چي سياسي پوهي ته اړتيا ولري، د دندي ترسره کولو وړتيا
- ☑ له سياسي کړنو، فعاليتونو، حرکتونو، او سياسي جوړښتونو څخه د علمي درک او سياسي بصيرت وړتيا
- ☑ د مسلکي انتقاد او کنجکاوي سربېره د زده کړيز او څېړنيز فعاليتونو ترسره کولو وړتيا
- ☑ ماسټري او دکتورا په برخه کي د لوړو زده کړو ترسره کولو وړتيا
- ☑ د نورو لپاره مثال ګرځېدل، په مسلک کي امانتداري، د زده کړو ليږد و نورو ته، او ټولني پرمختګ لپاره له خپلي پوهي او سياسي زده کړو څخه مؤثره ګټه اخيستنه.

## ارزښتونه (Values)

- ☑ شفافيت، مسئوليت او حساب ورکولو ته وده ورکول.
- ☑ صداقت، عدالت او مساوات ترويجول.
- ☑ متقابل احترام پیاوړی کول،
- ☑ د افکارو څرګندوني ته وده ورکول.
- ☑ د سياسي علومو او نړيوالو اړيکو څانګي د لا غني کولو په غرض د کورنيو او باندنيو بنسټونو سره ښې اړيکي ساتل.
- ☑ په تصاميمو کي د کارکوونکو فعاله ونډه اخيستل او تسويقول.
- ☑ ديوهنځي او مؤسسې سره په همږغۍ د سياسي علومو او نړيوالو اړيکو څانګي ستراتيژيک پلان تعقيبول.
- ☑ د سياسي علومو او نړيوالو اړيکو څانګي اصول او قوانين مراعتول.
- ☑ دملالی تحصيلي مؤسسې او د لوړو زده کړو وزارت ټولو قوانينو ته درناوی کول.
- ☑ د افغانستان اسلامي جمهوري دولت اساسي قانون ته ژمنتيا او درناوی.

# سرچیني، تدریس، ارزونه

## اداري جوړښت

| د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې آمریت | | | |
|---|---|---|---|
| دايمي استاد | دايمي استاد | دايمي استاد | دايمي استاد |

**استادان**

- ✔ څلور «۴» دايمي لېسانس، ماسټر او دوکتور استادان
- ✔ دیارلس «۱۳» بالمقطع لېسانس، ماسټر او دوکتور استادان

**تدریسي میتودونه**

۱- نوي درسونه | ۲- د استاد او محصل ترمنځ سوال او ځواب | ۳-بحثونه، خبرې اترې او مناقشې | ۴- تمثیلي محکمه، حقوقي کلینیک، حقوقي خدمات | ۵- حقوقي څېړني | ۶- ګروپي کارونه | ۷- د محصلینو سمینارونه

نظري ساعتونه په صنفونو کې تدریس کېږي او د عملي کارونو لپاره محصلین د پلان سره سم دولتي او خصوصي سکتورونو ته معرفي کېږي تر څو د کار ساحه له نږدې څخه ووینې، همدارنګه د سمستر په بهیر کې د عملي کار په موخه تمثیلي محکمه دائربږي او ترڅنګ يې حقوقي کلینیک کې محصلین عملي کارونه کوي. هر استاد د سمستر په پیل کې محصلینو ته کورس پالیسي ورکوي او له هغه وروسته د کوریکولم سره سم خپل تدریس پرمخ بیايي، په صنفونو کې له محصلینو د څېړنې او پرزنټیشنونو په برخه کې عملي کارونه ترسره کېږي او د هر محصل لپاره لاربښود استادان ټاکل سوي تر څو د هغوی ستونزې حل کړي.

**ارزونې**

۱- منځنۍ ازموینه: ۲۰ نمرې | ۲- نهایي ازموینه: ۶۰ نمرې | ۳- کورنۍ دنده او عملي کار: ۲۰ نمرې

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ محصلین مکلف دي، چې ۲۵ سلنه حاضري پوره کړي، د نه پوره کولو په صورت کې په نهايي ازموینو کې د ګډون حق نه لري او محروم شمېرل کېږي.



# د ډيپارټمنټ کمېټې

۱ د ډيپارټمنټ علمي مجلس

۲ د څېړني کمېټه

۳ تضمين کيفيت کمېټه

۴ ستراتيژيک کمېټه

۵ نصاب او کريکولم کمېټه

# سهولتونه او امکانات

- ☑ لېسانس، ماسټر او دوکتور استادان
- ☑ په دولتي او خصوصي ادارو کې عملي کارونه
- ☑ د عملي زده کړې په موخه علمي سيرونه
- ☑ د تمثيلي محکمې لپاره مجهز ځای
- ☑ د غونډو، ورکشاپونو، سيمينارونو او کنفرانسونو لپاره تالارونه
- ☑ د تحصيل په بهير کې د کمپيوټر، انګليسي ژبې او نورو مهمو مضامينو د زده کړو لپاره کورسونه
- ☑ شنه او ښکلي درسي فضاء، د ناستې او مطالعې لپاره منظم ځايونه، منظم کانټين
- ☑ په ټولګيو کې پروجکټورونه، پلازماوې، شنې او سپينې تختې، د يخې او ګرمې هوا لپاره ځانګړې تدابير
- ☑ د ښځينه محصلينو لپاره مجهز ټرانسپورټ او جوماتونه
- ☑ د محصلينو لپاره ستاينغونډې او فراغت غونډې

# تمثيلي محکمه

تمثيلي محکمه د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د حقوقو څانګې د عملي کار يوه برخه ده، چې هر کال حداقل دوه ځله ترسره کيږي، په تمثيلي محکمه کې د محصلينو لپاره د قضايي ارګانونو د محاکمو بهير په عملي بڼه ښودل کيږي. تمثيلي محکمه کې د مجرم، څارنوال، وکيل، قاضي او نورو اړوندو کسانو کرکټرونه نندارې ته وړاندې کيږي، تر څو محصلين په راتلونکو کې ياد بهير په خپلو کارځايونو کې تطبيق کړای سي.

# حقوقي کلينيک

د حقوقي کلينيک آمريت د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي په جوړښت کې د محصلانو عملي کار لپاره چمتو سوی دی، چې دغه خدمات وړاندې کوي:

بېوزله خلکو ته په وړيا ډول هر ډول حقوقي مشورې ورکول.

د بېوزله خلکو قضيې په ابتدائيه او استيناف محکمو کې په وړيا ډول پرمخ وړل.

غريبو او بې بضاعته خلکو ته حقوقي عريضه، صورت دعوی، دفاعيه، دفع الدفعه، اعتراض او د اعتراض دفع په وړيا ډول ليکل.

د ګرانو هيوادوالو لپاره په وړيا ډول حقوقي مرستې وړاندې کوي.

# مسلکي پرمختيايي مرکز

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې مسلکي پرمختيايي مرکز د محصلينو، استادانو، اداري او تخنيکي کارکوونکو د مسلکي مهارتونو د ودې په موخه ايجاد سوی دئ، د ياد مرکز له لورې د پلان له مخې محصلينو، استادانو، اداري او تخنيکي کارمندانو ته مسلکي ورکشاپونه، سيمينارونه، روزنيز پروګرامونه او کنفرانسونه دائربېږي تر څو ئې مسلکي مهارتونه پياوړي سي.

# څېړنيز مرکز

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې څېړنيز مرکز د خپلو علمي کادرونو، محصلانو او نورو همکارانو سره يو ځای په ملي سطحه روغتيايي او ټولنيزو ستونزو ته د څېړنو په اجراء او د پاليسيو په تحليل سره مناسبه حل لاره پيدا کوي. د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې څېړنيز مرکز هڅه کوي تر څو د څېړني په برخه کې د استادانو، محصلانو او ټولنې لپاره آسانتياوې رامنځته کړي.

## د محصلانو خدماتي مرکز

د محصلینو خدماتي مرکز د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د محصلینو لپاره د تحصیل پر وخت او له فراغت وروسته د Internship، Job Fair او Career Fair زمینه مساعدوي. یاد مرکز د خپلو موخو له مخې پلان لري، چې برحاله او فارغ محصلینو لپاره د کار زمینه مساعده کړي. یاد مرکز د بهرنیو دولتي او خصوصي سکتورنو څخه کاري فرصتونه ترلاسه کوي او د ځانګړي طرزالعمل له مخې محصلین ور معرفي کوي، د محصلینو د مهارتونو د ارتقاء په موخه وخت نا وخت ځانګړي سیمینارونه، ورکشاپونه، روزنیز پروګرامونه او کورسونه هم دائروي. همدارنګه یاد مرکز محصلینو ته په حقوقي، اقتصادي، رواني او ورغتیایي برخو کې د مختصصو کسانو په مرسته د مشورو ورکولو زمینه مساعده کړې ده.

## کتابتون

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محصلینو د مطالعي لپاره د کانګرس په سیستم مجهز کتابتون لري، چې کتابونه ئې په «۳۳» ګروپونو ویشل سوي او په درېیو ژبو دي. په کتابتون کې کمپیوټر لېب هم سته، چې د انټرنټ او سافت کتابونو لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کیږي، همدارنګه «۱٦۷» د کتابونو CD ګاني هم موجودې دي.

د ښځینه محصلینو د مطالعي اتاق، د ګروپي مطالعي ځای او د کتابتون څېړنیز مرکز د کتابتون په جوړښت کې نوري برخي دي.

## کمپیوټر لیب

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محصلینو لپاره د برېښنایي زده کړو د تحقق په موخه مجهز کمپیوټر لېب لري. یاد کمپیوټر لېب کې د "Hinari" او "AGORA" ویب پاڼو ته د لاسرسی امکانات چمتو سوي دي، چې په دې ویب سایټونو کې په زرګونه کتابونه، علمي مقالي او څېړنیز علمي مواد شتون لري.



# د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ نصاب او کریکولم

## لومړی سمستر: ۱۹ کریډیټونه

| شمېره | مضمون | مضمون کوډ | مضمون نوعیت | نظري | عملي | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د سیاست د علم اساسات | LP-PI 0106 | اساسي | 2 | | 2 |
| ۲ | نړیوال سازمانونه | LP-PI 0107 | اساسي | 2 | | 2 |
| ۳ | د نړیوالو اړیکو تاریخ | LP-PI 0108 | اساسي | 2 | | 2 |
| ۴ | د ټولنپوهنې اساسات | LP-PI 0109 | اساسي | 2 | | 2 |
| ۵ | مبادي حقوق | LP-PI 0110 | اساسي | 2 | | 2 |
| ٦ | مبادي اقتصاد | LP-PI 0111 | پوهنتون شموله | 2 | | 2 |
| ۷ | اسلامي ثقافت | SL-IC 0101 | پوهنتون شموله | 1 | | 1 |
| ۸ | بهرنۍ ژبه | Li-En 0102 | پوهنتون شموله | 2 | | 2 |
| ۹ | چاپېریال ساتنه | ns-Em 0104 | پوهنتون شموله | 2 | | 2 |
| ۱۰ | د افغانستان معاصر تاریخ | Ss-Hi 0105 | پوهنتون شموله | 2 | | 2 |

## دوهم سمستر: ۱۹ کریډیټونه

| شمېره | مضمون | مضمون کوډ | مضمون نوعیت | نظري | عملي | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د سیاست د علم اساسات | LP-PI 0206 | اساسي | 2 | | 2 |
| ۲ | نړیوال سازمانونه | LP-PI 0207 | اساسي | 2 | | 2 |
| ۳ | د نړیوالو اړیکو تاریخ | LP-PI 0208 | اساسي | 2 | | 2 |
| ۴ | د ټولنپوهنې اساسات | LP-PI 0214 | اساسي | 2 | | 2 |
| ۵ | مبادي حقوق | LP-PI 0115 | اساسي | 2 | | 2 |
| ٦ | مبادي اقتصاد | LP-PI 0116 | اساسي | 2 | | 2 |
| ۷ | اسلامي ثقافت | SL-IC 0217 | اساسي | 1 | | 1 |
| ۸ | بهرنۍ ژبه | Li-En 0218 | اساسي | 2 | | 2 |
| ۹ | چاپېریال ساتنه | ns-En 0201 | پوهنتون شموله | 2 | | 2 |
| ۱۰ | د افغانستان معاصر تاریخ | Li-En0105 | پوهنتون شموله | 2 | | 2 |

## درېیم سمستر: ۲۰ کریډیټونه

| شمېره | مضمون | مضمون کوډ | مضمون نوعیت | نظري | عملي | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د غرب د سیاسي افکارو تاریخ | LP-PI 0106 | اساسي | 3 | | 3 |
| ۲ | څېړنه | LP-PI 0107 | اساسي | 2 | | 2 |
| ۳ | بهرنۍ تخصصي ژبه | LP-PI 0108 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۴ | د افغانستان اساسي حقوق | LP-PI 0109 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۵ | په اسلام کې سیاسي افکار | LP-PI 0110 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ٦ | د اسیا په جنوب کې سیاست او حکومت | LP-PI 0111 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۷ | د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ | SL-IC 0101 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۸ | اسلامي سیاسي گوندونه او جریانونه | Li-En 0102 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۹ | اسلامي ثقافت | ns-Em 0104 | پوهنتون شموله | 1 | | 1 |
| ۱۰ | کمپیوټر | Ss-Hi 0105 | پوهنتون شموله | | | 2 |
| ۱۱ | اختیاري مضمون | | اختیاري | 1 | | 1 |

## څلورم سمستر: ۱۹ کریډیټونه

| شمېره | مضمون | مضمون کوډ | مضمون نوعیت | نظري | عملي | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | څېړنه | LP-PI 0419 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۲ | د نړیوالو اړیکو اصول | LP-PI 0428 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۳ | د یوویشتمې پېړۍ سیاسي فکر | LP-PI 0429 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۴ | سیاسي جغرافیه | LP-PI 0430 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۵ | سیاسي نوی والی او پراختیا | LP-PI 0431 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ٦ | تخصصي بهرنی ژبه | LP-PI 0432 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۷ | په مرکزي اسیا کې سیاست او حکومت | LP-PI 0433 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۸ | د رهبرۍ اصول | LP-PI 0334 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۹ | انتخاباتي نظامونه | LP-PI 0335 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۱۰ | اسلامي ثقافت | SL-IC | پوهنتون شموله | 1 | | 1 |

## پنځم سمستر: ۱۸ کریډیټونه

| شمېره | مضمون | مضمون کوډ | مضمون نوعیت | نظري | عملي | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د نړیوالو اړیکو اصول | LP-PI 0528 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۲ | نړیوال عمومي حقوق | LP-PI 0536 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۳ | سیاسي ټولنپوهنه | LP-PI 0537 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۴ | د مخ پر وده هیوادونو سیاسي او اقتصادي مسایل | LP-PI 0538 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۵ | پرتلیز اساسي حقوق | LP-PI 0539 | اساسي | 2 | | 2 |
| ٦ | سوله او د شخړو حل | LP-PI 0540 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۷ | د ډیپلوماسي اساسات | LP-PI 0528 | اساسي | 2 | | 2 |
| ۸ | نړیوال کیدل | LP-PI 0536 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۹ | اسلامي ثقافت | LP-PI 0537 | پوهنتون شموله | 1 | | 1 |
| ۱۰ | اختیاري مضمون | LP-PI 0538 | اختیاري | 1 | | 1 |

## شپږم سمستر: ۱۸ کریډیټونه

| شمېره | مضمون | مضمون کوډ | مضمون نوعیت | نظري | عملي | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | نړیوال عمومي حقوق | LP-PI 0636 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۲ | سیاسي ټولنپوهنه | LP-PI 0637 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۳ | اداري حقوق | LP-PI 0645 | اساسي | 2 | | 2 |
| ۴ | د بهرني سیاست د تحلیل اساسات | LP-PI 0646 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۵ | ډیپلوماتیک او قنسلي حقوق | LP-PI 0746 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ٦ | ډیپلوماتیک آداب او تشریفات | LP-PI 0648 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۷ | د امریکا په متحده ایالتونو کې سیاست او حکومت | LP-PI 0649 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۸ | د افغانستان سیاسي نظام | LP-PI 0650 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۹ | اسلامي ثقافت | SL-IC 0601 | پوهنتون شموله | 1 | | 1 |
| ۱۰ | اختیاري مضمون | | اختیاري | 1 | | 1 |

**اووم سمستر : ۱۸ کرېډیټونه**

| شمېره | مضمون | مضمون کوډ | مضمون نوعیت | نظري | عملي | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د نړیوالو اړیکو تیوریاني | LP-PI 0753 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۲ | د لویو قدرتونو بهرنی سیاست | LP-PI 0754 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۳ | نړیوال امنیت | LP-PI 0755 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۴ | نړیوال تجارت | LP-PI 0756 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۵ | د بشرحقوق | LP-PI 0757 | اساسي | 2 | | 2 |
| ٦ | مقایسوی سیاست | LP-PI 0758 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۷ | اسلامي ثقافت | SL-IC 0701 | پوهنتون شموله | 1 | | 1 |
| ۸ | عملي کار | LP-PI 0759 | عملي کار اومونوګراف | 2 | | 2 |
| ۹ | مونوګراف | LP-PI 0760 | عملي کار او مونوګراف | 2 | | 2 |
| ۱۰ | اختیاري مضمون | --- | اختیاري | 1 | | 1 |

**اتم سمستر : ۱۷ کرېډیټونه**

| شمېره | مضمون | مضمون کوډ | مضمون نوعیت | نظري | عملي | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د نړیوالو اړیکو تیوري | LP-PI 0853 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۲ | د لویو قدرتونو بهرنی سیاست | LP-PI 0854 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۳ | نړیوال سیاسي اقتصاد | LP-PI 0863 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۴ | سیاسي ارواپوهنه | LP-PI 0864 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ۵ | د نړۍ سیاسي مسایل | LP-PI 0865 | تخصصي | 2 | | 2 |
| ٦ | مونوګراف | LP-PI 0860 | عملي کار او مونوګراف | 2 | | 2 |
| ۷ | کار زده کړه | LP-PI 0866 | عملي کار او مونوګراف | 2 | | 2 |
| ۸ | اسلامي ثقافت | SL-IC 0801 | پوهنتون شموله | 2 | | 2 |

## محصلان او فارغان

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| برحاله محصلین | سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه | ۹٦ | نارینه | ۹۵ | ښځینه | ۱ |
| فارغان | سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه | ۲۴۲ | نارینه | ۲۳۴ | ښځینه | ۸ |

## درسي وختونه او فیسونه

| تدریسي وخت | پیل | پای | د یوه سمستر فیس |
|---|---|---|---|
| سهار | ۰٦:۰۰ | ۰۸:۰۰ | دوولس زره افغانۍ: ۱۲۰۰۰ |
| ماپښین | ۰۴:۰۰ | ۰٦:۳۰ | شپاړس نیم زره افغانۍ: ۱٦۵۰۰ |

**د نوم لیکنې پړاوونه**

په سپین بګرونډ کې شپاړس قطعې ۳/۴ انځورونه

د پوهنې په ریاست د درو کلنو نمرو تأییدول

د تذکرې او شهادتنامې دوې - دوې رنګه کاپیانې

## زموږ سره اړیکه

| پته | شبکه |
|---|---|
| www.malalay.edu.af | ویب پاڼه |
| info@malalay.edu.af | برېښنالیک |
| Malalay.mihe | فېسبوک پاڼه |
| Malalayedu | ټوېټر پاڼه |
| Malalay.mihe | انسټاګرام پاڼه |
| Malalay Uniersity | لنکډ ان پاڼه |
| Malalay Uniersity | یوټیوب |
| 0703 300 634 | وټس اپ، وایبر، آیمو، سکایپ، ټلګرام: |
| 0703 300 634 | دفتر شمېره: |

پته: دوهمه عینو مېنه، ختیځ لور، ۲۸ فرعي سړک. کندهار، افغانستان



Law & Political Science Faculty

# Political Science & International Relations Department Catalog



2020